# د قاضي اَنطوان کیسیا- مبیه مندوا

# وَرتـــه او جلا نظر

**لمړی: سریزه**

۱. زه د خپلو دوه همکارانو د پریکړې سره پوره موافق یم چې د ۱۵مې مادې مطابق یې د ۲۰۱۹ کال د اپریل د ۱۲مې نیټې د پریکړې «د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وضعیت اړوند پلټنې د اجازه غوښتنې په هکله د روم تړون د ۱۵مې مادې مطابق پریکړه» (افغانستان، او د رایو په موافقت پریکړه)[1] په ترڅ کې د ۲۰۱۷ کال د نومبر د ۲۰ نیټې د پلټنې د اجازې غوښتنلیک (غوښتنلیک)[2] رد کړ. خو البته زه غواړم خپل نظر د دوه مسئلو په هکله روښانه کړم: د پلټنې د اجازې په هکله د مقدماتي څانګې د قضایي هیئت (مقدماتي هیئت) حدود او د «عدالت د ګټې» د اصطلاح معنا.

۲. د روم تړون (تړون) د ۱۵(۴) مادې مطابق، مقدماتي هیئت باید پریکړه وکړي چې ګواکې قضیه «ښکاریږي چې د محکمې په قضایي واک یا صلاحیت کې ده»[3]. کله چې د معلوماتو ذاتي ځانګړتیاوو او معتبروالي ته توجه کیږي کوم چې د څارنوالي او د متضررینو او قربانیانو لخوا ترلاسه شوي دي– په اوسني پړاوکې- هیئت پر دې خوښ دی چې معقول دلائل شته ترڅو باور وشي چې هغه پیښې چې غوښتنلیک پرې تکیه کوي، ترسره شوې دي.[4] دغه پیښې کیدی شي د مکان له اړخه، د موضوع له اړخه او د فرد له اړخه د محکمې تر قضایي واک لاندې جنایتونه وشمیرل شي. زه د خپلو همکارانو له دې نظر سره همغږی یم چې د قبولتیا د دوه ګوني ارزونې (تکمیلي رول او د شدت درجې) د نتیجې پر اساس هغه قضیې چې د څارنوالي لخوا وړاندې شوې دي ښکاریږي چې د قبولتیا وړ دي.[5]

۳. سره له دې چې زه «د رایو په موافقت پریکړې» سره موافق یم، خو له درناوی سره زه د خپلو همکارانو له دې نظر سره موافق نه یم: کله چې د پلټنو د پیل اجازه ورکړل شي، د نوموړې اجازې حدود یا دایره به دومره محدوده پاته کیږي. زه د همکارانو سره موافق یم چې سره لدې چې د قضایي واک او قبولتیا په هکله ټول اړین شرائط پوره شویدي، د افغانستان د اسلامي جمهوریت (افغانستان) د

1 ICC-02/17-33.

2 ICC-02/17-7-Conf-Exp عمومي او د نشر وړ (سانسور شوی) بڼه؛ ICC-02/17-7-Red د نشر وړ بڼه وګورئ.

3 د رایو په موافقت پریکړه ، ICC-02/17-33، ۴۵ پاراګراف.

4 د رایو په موافقت پریکړه ، ICC-02/17-33، ۴۸ پاراګراف.

5 د تړون ۱۷(۱) او ۵۳(۱) ماده.

وضعیت اوسني حالات داسي دي چې د پلټنې او عدلي تعقیب بریا خورا محدوده پکې ښکاري[6]. نو ځکه د عدالت د ګټې له امله د هیئت لخوا د افغانستان د وضعیت په هکله د رسمي پلټنې اجازه ورنه کړل شوه. او لدې کبله زه غواړم چې د ممکنه اجازې د حدودو او همداشان د عدالت د ګټې په باب د خپل پوهاوي په هکله ځانګړی نظر ورکړم.

**دوهم: د مقدماتي ځانګې د قضایي هیئت (مقدماتي هیئت) د اجازې حدود**

۴. له پیله، زه غواړم یادونه وکړم چې د رایو په موافقت د پریکړې په ترڅ کې، هیئت د څارنوالي غوښتنلیک ته منظوري ورنکړه، او دغه وَرته او ځانګړی نظر په دې موخه ورکوم تر څو د نوموړي موضوع په هکله خپل نظریات څرګند کړم. د رایو په موافقت په پریکړه کې یادونه شوې چې د هیئت د څیړنې حدود او په نتیجه کې د اجازې حدود باید تر هغو پېښو یا د پېښو تر مجموعې پورې محدود وي، او یا هم ممکن د شکمنو جنایت کوونکو تر یوې ډلې پورې چې د څارنوالی لخوا راجع شوي دي.[7] نو له دې کبله، په دغه مرحله کې د مقدماتي هیئت لپاره ممکنه نه ده چې دغه دائره وغزوي او د نورو پلټنو توصیه وکړي، او پرته له دې چې دا واقعیت په نظر کې ونیسي چې ممکن د څیړنې په جریان کې همدا مناسب ښکاره شي.[8]

۵. زه باید ومنم چې له دغه نظر سره پوره همغږي نه لرم. له درنښت سره زه د خپلو همکارانو سره موافقت نه لرم، په داسې حال کې چې د دوی غوندې، زه هم په دې نظر یم چې د تړون د ۱۵ مادې موخه او هدف چې د عدلي تعقیب لپاره حدود تعین کړي له مقدماتي هیئت څخه دا غواړي ترڅو د منظور شوې پلټنې لپاره خاص حدود تعین کړي. زه په دې نظر یم چې هغه کړنلاره چې د رایو په موافقت په پریکړه کې منل شوې ده خورا محدودوونکي کړنلاره ده.

۶. د تړون د کاري یادښتونو بیاکتنه ښيي چې د روم تړون لیکونکو د څارنوال/څارنوالي د لزوملید د محدودتیا په هکله په ځانګړي توګه اندیښنه لرله. په واقعیت کې د تړون ۱۵(۳) ماده هغه جوړجاړی دی چې د دوه مختلفو موقفونو تر منځ سلا پرې شوې ده. له یوه اړخه ځینو هیوادونو د ممکنه سیاسي موخو په هدف د پلټنو په هکله اندیښني څرګندې کړې، او لدې کبله یې داسي موقف غوره کړ چې ښایي څارنوال هیڅکله اجازه ونلري تر څو په خپل لزوملید پلټنې پیل کړي. له بله اړخه ځینو هیوادونو ټینګار کاوه چې د څارنوال لپاره لازمه ده چې همداسې وکولی شي. د تړون ۱۵(۳) ماده د نوموړو دوه موقفونو تر منځ جوړجاړی دی: په دې ډول چې څارنوال/څارنوالي ته اجازه ورکوي تر څو په خپل لزوملید د پلټنو او تحقیقاتو پیل وکړي، خو یوازې د مقدماتي هیئت تر څار لاندې او د نوموړي هیئت د اجازې په صورت

[6] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۹۶ پاراګراف.
[7] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۳۹ پاراګراف.
[8] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۳۹ پاراګراف.

کي. او لدې کبله دا معلومه ده چې د ۱۵(۳) مادې نغښتې سبب د بې ځایه او سیاسي موخو لپاره د پلټنو څخه مخنیوی دی، او هیڅکله هم پدې معنا نه ده چې هرځلې چې څارنوال/څارنوالي ته نوې پېښې رابرسیره شي نو باید مقدماتي هیئت ته مراجعه وکړي.

۷. د ۱۵(۳) مادې مطابق، څارنوال/څارنواله باید وارزوي چې ګواکي «معقول دلائل شته چې پلټنې پیل شي». زما له نظره، مقدماتي هیئت مسئولیت لري چې همدغه د معقولتیا ازموینه د تړون د ۱۵(۴) مادې لاندې ترسره کړي. او د معقول بنسټ محتویات د تړون په ۱۵(۳) او ۱۵(۴) او ۵۳(۱) مادو کې یوشانته دي، کوم چې د محکمې د اجرائاتو او شواهدو د مقرراتو (مقررات) په ۴۸ مقرره کې بیا هم تکرار شوي دي.[9]

۸. نو ځکه، که مقدماتي هیئت څارنوال/څارنوالي ته اجازه ورکړي چې د یوه وضعیت په هکله پلټنه ترسره کړي نو باید په دقیقه، چټکه او مؤثره توګه یې ترسره کړي.[10] او کله چې پلټنې ترسره کوي نو کیدی شي څارنوال ته نوې پیښې رابرسیره شي. او له دغه لامله زه د درنښت سره پر دې موافقه نه لرم چې څارنوال یوازې د هغه پیښو پلټنه کولی شي کومې چې «په غوښتلیک کې په ځانګړې توګه یادې شوې او د قضایي هیئت لخوا یې اجازه ورکړل شوې ده، او ورسره د هغه پیښو پلټنه وکړي چې د اجازه ورکول شوي یا منظور شوي وضعیت په محتوی او په جغرافیایي او زماني حدودو کې وي یا ورسره کلک تړاو ولري».[11] دغه ډول کړنلاره، زما له متواضع نظره، خورا ډیره محدودونکې ده.

۹. نوموړې کړنلاره په داسې معنی کیږي چې که د منظور شوې پلټنې په جریان کې، مختلفې یا نوې پیښې را برسیره شي، نو څارنوال ته لازمي ده تر څو بیرته مقدماتي هیئت ته مراجعه وکړي او نوې اجازه وغواړي. دغه محدودونکې کړنلاره به د پلټنو او تحقیقاتو اجرائات له اړتیا پرته ستونزمن کړي او لدې امله به څارنوال اړ شي ترڅو مقدماتي هیئت ته یو ګڼ شمیر کوچني غوښتنلیکونه وړاندې کړي چې په نتیجه کې نوموړی هیئت باید د هغو په هکله فیصله وکړي. دغه کړنلاره به له اړتیا پرته د محاکمې ترمخه اجرائات خورا اوږده کړي. د تړون د ۱۵ مادې موخه دا وه ترڅو د سیاسي لاملونو پر بنسټ له عدلي تعقیب څخه مخنیوی وشي نه داچې د څاروال د تحقیقاتي کړنو وړوکې مدیریت ترسره کړي. دغه ډول محدودونکې کړنلاره د قضایي هیئت د اجازې له موخې او هدف سره، د قضایي څار په حیث، تناقض لري.

[9] مراجعه وکړئ أ. ستکمیلر، «۱۵ ماده»، د م. کلامبرګ (سمون) د نړیوالې جنایي محکمې د قانون په هکله نظر (۲۰۱۶) [ په انګلیسي]
[10] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۳۶ پاراګراف.
[11] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۴۰ پاراګراف.

۱۰. سربیره، که موږ د تړون ۵۳(۱)(الف) مادې ته پام وکړو، موږ وینو چې «جنایت» ته د مفرد په صیغه اشاره کوي. نوموړې ماده داسې معنا ورکوي چې هرکله چې پریکړه وشوه چې ګواکې معقول دلائل شته ترڅو باور وشي چې یو داسې جنایت ترسره شوی چې د محکمې تر قضایي واک لاندې وي، نو دغه شرط پوره شویدی. د «یوه جنایت» یادوَنه په منطقي توګه داسې معنا ورکوي چې لازمي نه ده چې د ۱۵مادې لاندې د پریکړې اړوند جنایتونه په بشپړ ډول تعریف شي. زما په نظر، د ۱۵ مادې لاندې د غوښتنلیک موخه داده چې د پلټنو او تحقیقاتو د «ترسره کیدو» لپاره اجازه واخیستل شي. د دغه لفظ ساده معنی داسې ده، کله چې پلټنې پیل شي، نو بیا کیدی شي ډیر روښانه شي چې کوم عملونه او کړنې د محکمې تر قضایي واک لاندې جنایتونو کچې ته رسیږي. لدې کبله دغه مخکنی ارزونه په لازمي توګه خورا محدوده ده او د هغه جنایتونو پوره تصویر نه شي ورکولی چې تر سره شویدي.

۱۱. زما نظر «د بورندي د جمهوریت په وضعیت کې د پلټنې د اجازې په هکله د روم د تړون د ۱۵مادې مطابق پریکړې» (د بورندي په هکله د ۱۵ مادې پریکړې) سره یوشان دی.[12] په غوښتنلیک کې «د بورندي د وضعیت په هکله د روم تړون د ۱۵مادې مطابق د پلټنې د اجازې غوښتنلیک» (د بورندي غوښتنلیک)[13] څارنوالي د محکمې تر واک لاندې جنایتونو په هکله، چې د اِدعا له مخې په بورندي کې د ۲۶ اپریل ۲۰۱۵[14] څخه تر ۲۶ اکتوبر ۲۰۱۷[15] پورې پیښ شویدي، د پلټنې د پیل کیدو غوښتنه وکړه. په دغه ځل، د مقدماتي څانګې دریم هیئت، چه زه یې هم غړی وم، پریکړه وکړه چې د ځینې جنایتونو دوامداره بڼې ته پر کتو، څارنوالۍ ته اجازه ورکړي ترڅو خپلې پلټنې داسې جنایتونو ته وغزوي کومو چې د ۲۶ اکتوبر ۲۰۱۷ څخه وروسته هم دوام موندلی دی. دا وه د مودې له اړخه د منظور شوې پلټنې د حدودو په هکله.[16]

۱۲. د موادو د محتوی له اړخه د منظور شوې پلټنې په هکله، قضایي هیئت د هر هغه جنایت د پلټنې اجازه ورکړه چې، د مودې له اړخه د قضایي واک لرلو په صورت کې، د محکمې تر واک لاندې او د ۲۶ اپریل ۲۰۱۵ څخه تر ۲۶ اکتوبر ۲۰۱۷ پورې پیښ شویدی. او له دې کبله، د څارنوالۍ پلټنې تر هغو پیښو محدودې نه شوې چې «په غوښتنلیک کې یې یادونه شوې وه، بلکه کیدی شوی، د شواهدو په شتون کې د څارنوالۍ پلټنې نورو جنایتونو ته هم وغزیږي، لکه جګړئیز جنایتونه او نسل وژنه، ترکومه

[12] د مقدماتي څانګې دریم قضایي هیئت، ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۷، ICC-01/17-X-9-US-Exp. همداشان عمومي او د نشر وړ بڼه شتون لري؛ وګورئ ICC-01/17-9-Red [په انګلیسي].
[13] څارنوالي، ۵ سپتمبر ۲۰۱۷، ICC-01/17-X-5-US-Exp. همداشان عمومي او سانسور شوې د نشر وړ بڼه شتون لري؛ وګورئ ICC-01/17-5-Red [په انګلیسي].
[14] د بورندي غوښتنلیک، ICC-01/17-5-Red، ۳۹ پاراګراپ [په انګلیسي].
[15] د بورندي غوښتنلیک، ICC-01/17-5-Red، ۳۹ پاراګراپ [په انګلیسي].
[16] د بورندي د ۱۵ مادې پریکړه، ICC-01/17-9-Red، ۱۹۲ پاراګراپ [په انګلیسي].

چي د منظور شوو پلټنو په چوکاټ کې وي، د تړون د ۵۴(۱)(الف) مادې مطابق[17]. دغه وروستی شرط د واقعیت په لاسته راوړلو کې د بېطرفه پلټنې غوښتنه کوي.

۱۳. په پای کې، د منظور شوو پلټنو د جغرافیایي محدودې په هکله، هیئت پریکړه وکړه چې څارنوالي ته اجازه ورکړي تر څو خپلې پلټنې ټولو هغه جنایتونو ته وغزوي کوم چې د محکمې تر قضایي واک لاندې وي او د بورندي پر خاوره ترسره شوي وي (د تړون ۱۲(۲)(الف) ماده)، یا له بورندي څخه د باندې د بورندي د تبعه وګړو لخوا ترسره شوي وي (د تړون ۱۲(۲)(ب) ماده)، په هغه صورت کې که د بشریت ضد جنایتونو حقوقي شرائط یې د محتوی له اړخه پوره کړي وي.[18]

۱۴. په واقعیت سره، په دغه قضیه کې، دا په روښانه ډول منل شوې وه چې پلټنه تر هغو جنایتونو پورې محدوده نه وه چې د اجازې په پریکړه کې یې یادون شوی وو، او روښانه وه چې کیدی شي نورو داسې جنایتونو ته پراختیا ومومي چې د محکمې په قضایي واک او صلاحیت کې وي، خو په دې شرط چې د اجازې په چوکاټ کې وي. او همدا د څارنوالې د مسئولیت سره همغږي لري ترڅو دقیق او بېطرفه تحقیقات ترسره کړي.

۱۵. د پورته په رڼا کې، زه پر دې نظر یم کوم وخت چې د پلټنې اجازه ورکړل شي، د هغو دائره او حدودو باید دومره محدود نه کړل شي. پدې هکله تعبیر باید پراخولې ولري لکه څرنګه چې د «عدالت د ګټې» په هکله باید پراخه وي.

## دریم: د عدالت ګټې

۱۶. د *رایو* په *موافقت پریکړه* کې، قضایی هیئت لدې امله غوښتنیک رد کړ چې د «عدالت ګټې» به خوندي نه کړي. زه د دغه فیصلې سره پوره موافق یم او غواړم چې خپل نظر پدې هکله د څه نا څه زیات تفصیل سره څرګند کړم. زه غواړم لمړی د مقدماتي هیئت د ورتیا په هکله نظر ورکړم چې د «عدالت د ګټې» په هکله یې د تړون د ۱۵ مادې په چوکاټ کې اجرائات وکړل، او دوهم، غواړم د دغه موضوع په هکله خپل موقف روښانه کړم.

### الف: د مقدماتي هیئت ورتیا

۱۷. د تړون د ۱۵(۴) مادې مطابق،

که مقدماتي هیئت د غوښتنلک او ورسره مرستندویه موادو د ازموینې پر وخت وانګیرل چې معقول دلائل شته تر څو پلټنې پیل شي، او ښکاریږي چې قضیه د محکمې په قضایي واک کې

[17] د بورندي د ۱۵ مادې پریکړه، ICC-01/17-9-Red، ۱۹۳ پاراګراپ [په انګلیسي].
[18] د بورندي د ۱۵ مادې پریکړه، ICC-01/17-9-Red، ۱۹۴ پاراګراپ [په انګلیسي].

وي، نو باید د پلټنو د پیل اجازه ورکړي، پرته لدې چې په پام کې ونیسي چې په همدې قضیه کې به د قضایي واک او قبولتیا په هکله په وروستۍ مرحلو کې د محکمې پریکړې څه وي.

په دغه فقره کې د «عدالت د ګټې» یادونه نه ده شوې. نو ځکه به مناسبه وي ترڅو پوښتنه وشي چې ګواکې ولې باید مقدماتي هیئت د دغه محور ازموینه کړې وی. داسې توقع کېږي چې ولیدل شي چې هیئت یوازې د قضایي واک او قبولتیا پر مسئلو بحث کوي.

۱۸. البته، د څارنوالۍ د واک په هکله، دتړون ۱۵(۱) ماده داسې څرګندونه کوي:

۱. کله چې څارنوال/څارنواله هغه معلومات وارزوي کوم چې ورته وړاندې شول، نو باید پلټنه پیل کړي، غیر له هغه چې پریکړه وکړي چې د تړون پر اساس د پلټنې د پیل لپاره معقول دلائل نه شته. د دې لپاره چې پریکړه وکړي چې پلټنه پیل کړي که نه، باید په پام کې ونیسي چې ګواکې:

(الف) هغه معلومات چې د څارنول/څارنوالۍ سره موجود دي، معقول دلائل تشکیلوي ترڅو باور وشي چې د محکمې د قضایي واک په دایره کې جنایتونه ترسره شوي یا ترسره کېږي؛

(ب) قضیه د ۱۷ مادې لاندې قبولتیا لري یا به قبولتیا ولري؛ او

(ج) سره لدې چې د جنایت شدت او د متضررینو ګټو ته پام وشي، په زیاته کچه داسې دلائل شته ترڅو باور وشي چې پلټنې به د عدالت ګټې خوندي نه کړي.

که څارنوال/څارنواله پریکړه وکړي چې معقول دلائل نه شته ترڅو پلټنې پیل شي او کله چې پریکړه یې یوازې د پورتنۍ (ج) فقرې پر بنسټ ولاړه وي نو باید مقدماتي هیئت ته خبر ورکړي.

۱۹. نو له دې کبله، په روښانه ډول داسې ښکاري چې مقدماتي هیئت دا واک لري تر څو د څارنول/څارنوالۍ لخوا خبر کړل شي او ترڅو د هغه/هغې د نه پلټنې د پریکړې بیاکتنه وکړي. خو کله چې څارنوال/څارنواله د پلټنې په هکله پریکړه کوي نو مقدماتي هیئت دا واک هم لري تر څو د «عدالت د ګټې» پر اساس د پریکړې بیا کتنه وکړي او که نه؟ زه باید ووایم چې د محکمې قوانین پر دغه مسئله کې کامل وضاحت نه لري. رښتیا، په ځینو وضعیتونو کې، مقدماتي هیئت د «عدالت د ګټې» ازموینه په ژوره توګه نه ده کړې.[19] په واقعیت سره په دغه بیلګو کې، مقدماتي هیئت صرف یوه اشاره کړې

[19] د *بیلګې په توګه* د مقدماتي څانګې دوهم قضایي هیئت، د کینیا په جمهوریت کې وضعیت، د کینیا د جمهوریت په وضعیت کې د پلټنې د اجازې په هکله د روم د تړون د ۱۵مادې مطابق پریکړه، (د کینیا په هکله د ۱۵ مادې پریکړه) [په انګلیسي] ۳۱ مارچ ۲۰۱۰، ICC-01/09-19-Corr، ۶۳ پاراګراف *وګورئ*.

چې کوم دلیل موجود نه وو چې د دغه شرط بیاکتنه وشي څکه څارنوالي پریکړه نه ده کړې چې د پلټنې پیل به د «عدالت په ګټه» نه وي.

۲۰. سربیره، زما په نظر، دا واقعیت چې د تړون ۱۵(۴) ماده د«عدالت ګټې» په *روښانه کلماتو* نه تصویروي، په دې معنا نه راځي چې مقدماتي هیئت دغه محور ته له پام کولو څخه بې واکه شوی دی. زما په متواضع نظر، دغه پریکړه یا څېړنه د مقدماتي هیئت د څار په دایره کې ده. او په رښتیا، د مقرراتو ۴۸ مقرره داسې څرګندوي:

« کله چې دا پریکړه کیږي چې ګواکې معقول دلائل شته یا نه شته تر څو د ۱۵ مادې، ۳ پاراګراف لاندې پلټنه پیل شي، نو څارنوال/څارنواله باید هغه عواملو ته پام وکړي کوم چې د تړون په ۵۳ (۱) کې د (الف) څخه تر (ج) پورې یاد شوي دي.»

۲۱. موږ ګورو چې «د پیل لپاره د معقولو دلائلو شتون» چې په مقرراتو کې یاد شوی، همداشان د تړون په ۵۳(۱) ماده کې هم شته دی. دا روښانه ده چې دغه متن درې محورونو ته اشاره کوي چې له، قضايي واک، قبولتیا او د «عدالت له ګټې» څخه عبارت دي (له هغه وروسته چې د جنایتونو د شدت او د متضررینو ګټو ته پام وشي). د تړون د ۱۵(۴) مادې په وروستی برخه کې «قضايي واک او قبولتیا» ته اشاره یوازې یو نامناسب تکرار دی چې په ډېری داسې سندونو کې موندل کیږي چې په هکله یې د سیاستوالو لخوا مذاکره شوې وي او په وروستی مرحله کې هوکړه پرې شوې وي. موږ همداشان ویلی شو چې د «عدالت د ګټې» نه یادون یوازې یوه اشتباه ده. په ۴ پاراګراف کې متن پدې معنی نه دی چې په دغه مرحله کې د مقدماتي ځانګې هیئت نه شي کولی چې د «عدالت د ګټې» د ارزونې بیاکتنه وکړي.

۲۲. په ټوله کې، د تړون د ۱۵(۴) مادې او ۵۳(۱)(الف) مادې او د مقرراتو د ۴۸ مقررې ګډ لوست په اړونده محتوی کې دا روښانه کوي چې هغه وخت چې څارنوال/څارنواله د پلټنې د رسمي پیل لپاره د اجازې غوښتنلیک وړاندې کړي، د «عدالت د ګټې» ارزونه د مقدماتي هیئت یوه لازمي دنده ده.

۲۳. همداشان، زما په نظر، که څارنوال/څارنوالي د پلټنې د پیل پریکړه وکړه او یا نه، د مقدماتي ځانګې هیئت صلاحیت لري چې د «عدالت د ګټې» ارزونه وکړي. سره له دې چې د تړون ۵۳(۱)(ج) او (۲)(ج) ماده یوازې د څارنوال/څارنوالي د پلټنې نه کولو پریکړه یادوي، که نوموړې پلټنه د «عدالت په ګټه» نه وي؛ خو روښانه ښکاري چې په خپله پریکړه کې څارنوال/څارنواله باید نوموړې ازموینه ترسره کړي، او په لمړنی مرحله کې وګوري، په عکس ترتیب سره، چې ګواکې پلټنې یا عدلي تعقیب به د عدالت ګټې خوندي کړي. په بل عبارت سره، څارنوال/څارنواله باید هغه وخت چې د تړون د ۱۵ مادې لاندې د پلټنې د اجازې غوښتنلیک وړاندې کوي، نو باید مثبته پریکړه وکړي چې کافي دلائل نه شته ترڅو باور وشي چې نوموړې پلټنه به د عدالت ګټې خوندي نه کړي. د «عدالت د ګټې» په هکله د

محکمې حقوقي نظريه يوشانته نه ده، خو ځينې بيلګې وړاندې کوي چې د مقدماتي څانګې هيئتونو له دې لامله د پلټنو اجازه ورکړې ده چې د عدالت په ګټه وې،[20] سره لدې چې اوس هم اړتيا شته ترڅو د «عدالت د ګټې» د دايرې او حدودو په هکله پراخه او پوره روښانتيا را منځته شي.

### ب: د «عدالت د ګټې» تفسير

۲۴. تر نن ورځې پورې د محکمې د هيئتونو لخوا د «عدالت د ګټې» شرائط او ځانګړتياوې په تفصيلي ډول نه دي شرح شوې. په واقعيت سره، د «عدالت ګټې» يوه پيچلې موضوع ده. د کينيا په وضعيت کې، قضايي هيئت وويل چې د د تړون د ۵۳(۱)(ج) مادې مطابق، دريمه ځانګړتيا چې بايد د هيئت لخوا ارزول شوې وی، دا وه چې «د جنايتونو شدت او د متضررينو ګټو په پام کې نيولو سره، کافي دلائل شته ترڅو باور وشي چې پلټنه به د عدالت ګټې خوندي نه کړي».[21] نو ځکه د قضايي هيئت لپاره، د (الف) او (ب) فقرو پر خلاف چې د مثبتې نتيجې غوښتنه کوي، (ج) فقره له څارنوال/څارنوالۍ څخه نه غواړي چې ثابته کړي چې د پلټنې پيل په واقعيت کې د عدالت ګټې تضمينوي.

۲۵. په مشابه ډول، کله چې څارنوالۍ دا پريکړه ونکړه چې د بورندي په وضعيت کې به پلټنې د «عدالت ګټې تضمين نه کړي» او مهمه دا چې، د متضررينو او قربانيانو نظرياتو ته پام وشو کومو چې په خورا جدي توګه د پلټنو پر کيدو ټينګار کړی وو، هيئت دا ومنله چې په واقعيت سره کافي دلائل نه شته تر څو باور وشي چې پلټني به د عدالت ګټې خوندي نه کړي.[22]

۲۶. څارنوالۍ د «عدالت د ګټې په هکله د کړنلارې په ليکنه کې» د «عدالت د ګټې» خورا محدود تفسير کړی دی.[23] د هغې لپاره، نوموړې نظريه يوازې په استثنايي حالاتو کې پلې کيدی شي او په ډيرې حالاتو کې د پلټنې د پيل په موخه.[24] ښکاري چې د ۵۳ مادې څخه د څارنوالۍ پوهاوی داسې دی چې عدلي تعقيب تقريباً هرکله شونی دی.

---

[20] د بورندي په هکله د ۱۵ مادې پريکړه، ICC-01/17-9-Red، ۱۹۰ پاراګراپ [په انګليسي]؛ د مقدماتي څانګې لمړی قضايي هيئت، په جورجيا کې *وضعيت* د پلټنې د پيل لپاره د څارنوالۍ د غوښتنليک په هکله پريکړه (د جورجيا په هکله د ۱۵ مادې پريکړه) ۲۷ جنوري ۲۰۱۶، ICC-01/15-12, ۵۸ پاراګراف [په انګليسي].

[21] د کينيا په هکله د ۱۵ مادې پريکړه، ICC-01/09-19Corr، ۵۸ پاراګراف. *همداشان وګورئ*، د مقدماتي څانګې دريم قضايي هيئت، *د ساحل عاج په جمهوريت کې وضعيت*، د ساحل عاج د جمهوريت په وضعيت کې د پلټنې د اجازې په هکله د روم د تړون د ۱۵مادې مطابق پريکړه [په انګليسي] ۱۵ نومبر ۲۰۱۱، ICC-02/11-14-Corr، ۲۰۷ پاراګراف؛ د جورجيا په هکله د ۱۵ مادې پريکړه، ICC-01/15-12 ۵۸ پاراګراف [په انګليسي].

[22] د بورندي په هکله د ۱۵ مادې د پريکړې ۱۹۰ پاراګراف يوازنی برخه ده چې د «عدالت د ګټې» لپاره ځانګړې شويده.

[23] ت. دی سوزا، «,دعدالت ګټې،: د نړيوالې جنايي محکمې د روم تړون په ۵۳(۱)(ج) او (۲)(ج) ماده کې د عدلي تعقيب د لزومليد د دايرې تعريف» *د نړيوال قانون ليدن ژورنال* (۲۰۱۷) ۷۳۱-۷۵۱ صفحې، په ۷۳۲ صفحه کې.

[24] څارنوالي، د عدالت د ګټې په هکله د کړنلارې ليکنه (۲۰۰۷) [په انګليسي].

۲۷. نو ځکه، د افغانستان په وضعیت کې د غوښتنلیک په ترڅ کې، څارنوالي دا موندلې ده چې کافي دلائل نه شته تر څو باور وشي چې په نوموړي وضعیت کې به پلټنې د عدالت ګټې خوندي نه کړي.[25] په تقریبي ډول د څارنوالي څخه د دغه ډول نظر توقع کېدله. په رښتیا سره، څرنګه چې د قضایي هیئت لخوا ولیدل شوه، «څارنوالي د هغه تګلارې سره یوشان کومه چې یې په پخوانیو قضیو کې غوره کړې ده، په خپلو څرګندونو کې په دې هکله له ډېرو تفصیلاتو څخه ډډه کړې او یوازې پر دې یې اکتفاء کړې ترڅو ووایي چې داسې دلائل څرګند نه دي چې پلټنې او تحقیقات به د عدالت د ګټې د خوندیتوب سره تناقض ولري».[26] نو ځکه څارنوالي خوښې درلوده چې « دعدالت د ګټې ارزونه باید هغه وخت په پام کې ونیول شي کوم وخت چې د قضایي واک او قبولتیا په هکله پریکړه مثبته وي».[27] نو لدې کبله زما لپاره مناسبه ده ترڅو د «د عدالت د ګټې» اصطلاح تحلیل کړم او ترڅو روښانه کړم چې قضایي هیئت سمه پریکړه وکړه چې پر دغه بنسټ یې په افغانستان کې دپلټنې غوښتنلک رد کړ.

۲۸. په تړون کې، ځینې فقرې دا اړتیا منې چې کیدی شي د یوه وضعیت په هکله، په لنډمهاله کې، پلټنې ترسره نه شي، یا داچې عدلي تعقیب د «عدالت د ګټې» په موخه یوې خواته پرېښودل شي. دوه فقرې په ځانګړې توګه د اهمیت وړ دي: د تړون ۵۳(۱)(ج) او (۲) (ج) ماده. د تړون ۵۳(۱)(ج) داسې لوستل کېږي:

۱. کله چې څارنوال/څارنواله هغه معلومات وارزوي کوم چې ورته وړاندې شول، نو باید پلټنې پیل کړي، غیر لدې چې پریکړه وکړي چې د تړون پر اساس د پلټنې د پیل لپاره معقول دلائل نه شته. د دې لپاره چې پریکړه وکړي چې پلټنه پیل کړي که نه، باید دا په پام کې ونیسي چې ګواکې:

[...]

(ج) سره له دې چې د جنایت شدت او د متضررینو ګټو ته پام وشي، په زیاته کچه داسې دلائل شته ترڅو باور وشي چې پلټنې به د عدالت ګټې خوندي نه کړي.

د تړون ۵۳(۲)(ج) داسې لوستل کیږي:

۲. که د پلټنې پر وخت، څارنوال/څارنوالي دا پایله واخیسته چې کافي دلائل نه شته ترڅو عدلي تعقیب ترسره شي، ځکه چې:

[...]

[25] غوښتنلیک، ICC-02/17-07-Red، ۳۷۲ پاراګراف [په انګلیسي].
[26] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۸۷ پاراګراف.
[27] څارنوالي، د عدالت د ګټې په هکله د کرنلارې لیکنه (۲۰۰۷)، ۲ صفحه [په انګلیسي].



د محکمې رسمي ژباړه

(ج) عدلي تعقيب، ټولو اړوند حالاتو ته په پام سره، د عدالت په ګټه نه دی؛ لکه د جنايتونو شدت، د متضررينو او قربانيانو ګټې، د شکمنو مجرمينو عمر او ورتيا، او په اِدعا شوی جنايت کې دهغوی ونډه: څارنوال/څارنواله بايد د خپلې پريکړې او د پريکړې د دلائلو په هکله مقدماتي هيئت او هغه هيواد ته خبر ورکړي کوم چې د ۱۴ مادې لاندې يې قضيه راجع کړېده يا د ۱۳ مادې د (ب) پاراګراف لاندې په شرائطو کې، د امنيت شورا ته خبر ورکړي.

۲۹. په واقعيت کې، که موږ د «عدالت د ګټې» په هکله روښانه تعريف لټوو، نو تړون ډيره مرسته نشي کولی. په دغه برخه کې تړون چوپ پاته دی.[28] سربيره، مؤلفين هم د ۵۳ مادې په هکله مختلف تفسيرونه لري.[29] خو البته، موږ پوهيږو چې تړون [د هيوادونو ترمنځ] يو موافقتليک دی. لدې وجې، په عمومي توګه د لاتيني اصل «موافقتليک د غړو څخه بهر اړخونو ته ګټه يا تاوان نه رسوي»[30] مطابق يوازې پر غړو هيوادونو خپل تأثيرات اچوي. په مشابه ډول، تر څو د «عدالت ګټې» لکه څرنګه چې په تړون کې شته، تفسير کړی شي، زه غواړم چې د هغه تفسيري آلاتو څخه استفاده وکړم کوم چې د ويانا د کنوانسيون په ۳۱ او ۳۳ مادو کې يې د موافقتليکونو د قانون په هکله سپارښتنه شوېده، تر دوديزه نړيوال قانون لاندې د موافقتليکونو د تفسير په هکله د عمومي قاعدې په حيث.[31] نو ځکه زه غواړم چې د تړون د اړوندو فَقَرو متن او محتوی دواړه د هغو د موخو او اهدافو سره د ربط له لحاظه په پام کې ونيسم. کله چې دغه کار سرته رسوم، نو، د ښه نيت سره، به د هر لفظ عادي معنی ته پام وکړم. که دغه عمل په پوره توګه قانع کوونکی نه وو، نو ترديد به ونلرم چې مرستندويه تفسيري آلاتو ته مراجعه وکړم، لکه د تړون اړوند «کاري سندونه».[32]

۳۰. د قضايي هيئت لپاره، څرنګه چې د «عدالت د ګټې» د اصطلاح لپاره په تړون کې تعريف نه شته ، د هغه معنا «د داسي عامل په حيث چې ممکن د لزومليد په اساس د عدلي تعقيب د پلې کيدو څخه مخنيوی وکړي، بايد په تړون کې د نغښتو عمومي هدفونو د لاسته راوړو په ترڅ کې وموندلی شي: لکه د خورا شديدو نړيوالو جنايتونو د موثر عدلي تعقيب، د معافيت پرخلاف مبارزه، او د عامه

[28] م. بروباچر، «په نړيواله جنايي محکمه کې د عدلي تعقيب اړونده پر مختګ [په انګليسي]، په اې. هيوز، و.أ. شهاباس او ر. تهاکور (بيانشر) کې، غميزې او نړيواله محاسبه: د لنډمهاله عدالت څخه وروسته (۲۰۰۷)، صفحه ۱۴۹ او ۱۵۰.[په انګليسې].

[29] د. دوکيک، «انتقالي عدالت او نړيواله جنايي محکمه – د عدالت په ګټه؟ د سره صليب نړيواله بياکتنه (IRRC) ۸۹ ټوک، ۸۶۷ ګڼه، سپتمبر ۲۰۰۷، ۶۹۱- ۷۱۸ ځانګړې صفحې په ۶۹۷ صفحه کې. لدې امله، ځينې لکه، روبينسون، ستاهن، ګيورون د نوموړې اصطلاح د پراخه تفسير تأييد کوي، حال دا چې نور، لکه، دوکيک، د عفوې نړويواله اداره او د بشري حقونو د څار اداره د خورا محدودونکي تفسير تأييد کوي؛ وګورئ دوکيک، مخکې ياد شوی مأخذ، ۶۹۸ صفحه.

[30] موافقتليکونه پرغړو لازمي دي، يوازې پر غړو؛ او د دريم هيواد په هکله مسئوليت نه شي جوړولی.

[31] د عدالت نړيواله محکمه، د آزادی پر حقونو تيری او په کربين سمندر کې د اوبو ساحه (*نيکاراګوا پرخلاف د کولمبيا* )، لمړني اعتراضات، فيصله، ۱۷ مارچ ۲۰۱۶، .I.C.J راپورونه ۳ صفحه، ۳۵ پاراګراف [په انګيسي].

[32] ما هماغه ميتود وکاراوه کوم چې دي سوزا دياس او دوکيک کارولی دی. خو البته، لکه د دي سوزا دياس غوندې، زه د پراخه تفسير تأييد کوم، پر خلاف د دوکيک کوم چې خورا محدودونکی تفسير غوره بولي.

مرکزوبلي څخه مخنیوی».[33] البته، زه له دغه نظر سره پوره همغږي لرم کوم چې د تړون د۵۳(۱)(ج) او (۲)(ج) مادې د تحلیل په ترڅ کې تأیید شوی دی.

۳۱. نو ځکه، د قضایي هیئت لپاره، هره پلټنه باید د تړون اهداف ترلاسه کړي. په پایله کې، په سختۍ سره به دا وویل شي چې پلټنې به د عدالت ګټې خوندي کړي که اړوند حالات داسې وي چې پلټنې او تحقیقات یا شوني نه وي او یا یې پایله بریالی نه وي.[34] ښکاري چې د افغانستان په وضعیت کې ځانګړو لاملونو، په دا اوس وخت کې، د بریالیو او پایله درلودونکو پلټنو د شونتیا مخنیوی کړی دی. ځینې یې په لاندې ډول دي: (۱) د ادعا شوو جنایتونو او غوښتنلیک تر منځ خورا ډیره موده تیره شوې ده؛ (۲) د هغه همکاریو لړوالی چې څارنوالي په دغه موده کې ترلاسه کړې، سره لدې چې دغه همکاري د لمړنی ازموینې په موخه وه؛ (۳) په زیات ګومان اړین شواهد او احتمالي اړوند متهمین ممکن لا اوس هم شتون ولري.[35]

۳۲. سربیره، هیئت یادښت کړه چې په افغانستان کې پلټنه د پام وړ مقدار منابعو ته اړتیا لري او په راتلونکې کې د محکمې په بودجه کې د اضافي منابعو په نه شتون کې، او د دغه ډول نه بریالیو پلټنو په صورت کې، بیا هم لازمي ده ترڅو څارنوالي دغه وضعیت ته د مالي او بشري منابعو تخصیص ورکړي؛ څرنګه چې دغه منابع محدود دي، نو په نورو رښتیا کیدونکو پلټنو او عدلي تعقیبونو به ناوړه اغیزه وکړي.[36] دا ډول تحلیل کیدی شي یو اړخیز وشمیرل شي. کیدی شي فکر وشي چې هیئت سیاسي عواملو ته پر حقوقي عواملو ترجیح ورکړېده. په طبیعي ډول، کله چې د «عدالت د ګټې» رښتوني معنا ته پام کوم، زه نه شم کولی د نوموړي مسئلې په هکله دا ډول منفي او یو اړخیز نظر قبول کړم.

۳۳. د تړون د ۵۳(۱) مادې په لوست سره زه داسې فکر کوم، هغه وخت چې څارنوال/څارنوالي کافي معلومات ولرل، نو فرض کیږي چې پلټنې پیل شي، غیر له دې چې د پلټنې د پیل لپاره معقول دلائل موجود نه وي. خو البته، د جنایتونو شدت او د قربانیانو ګټو ته په پام سره، که کافی دلائل موجود وي چې دا ښکاره کړي چې یوه پلټنه به د عدالت ګټې خوندي نه کړي، نو د تړون ۵۳(۱)(ج) ماده دا غوښتنه کوي چې څارنوال/څارنواله باید پیل ونه کړي. لدې امله، د (ج) فقره منفي ازموینه ترسره کوي: کیدی شي څارنوال/څارنواله تشویق کړی شي ترڅو پلټنې او تحقیقات پلي نه شي ځکه

[33] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۸۹ پاراګراف.
[34] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۹۰ پاراګراف.
[35] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۹۱ پاراګراف.
[36] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۹۵ پاراګراف.

چې د «عدالت ګټې» نه تضمینوي. او له دې کبله، د «عدالت د ګټې» له امله د پلټنې نه ترسره کول په عادي ډول یو استثنائي حالت دی.[37]

۳۴. که زه د تړون د ۵۳(۱)(ج) مادې شرائط د (۱)(الف) او (۱)(ب) سره یوځای ولولم، نو داسې را ته ښکاریږي چې د «عدالت د ګټې» منفي ازموینه یوازې له هغه وروسته کیدی شي چې د قضایي واک او قبولتیا ازموینه ترسره شوې وي. خو همداشان زه د تړون ۵۳(۱) ماده په ټولیز ډول د (ج) فقرې سره یوځای لوستلی شم. او په پایله کې، کیدی شي ووینو چې په لازمي ډول د «عدالت ګټې» د جنایتونو د شدت سره یوځای نه دي، او نه د متضررینو د ګټو سره. نو ځکه، هغه عوامل چې کیدی شي د متضررینو د ګټو په حیث وه انګیرل شي، مختلف دي. [38]

۳۵. همداشان، که د (ج) په فقره کې د «سره له دې» قید ته پام وکړو، او کله چې دغه فقره د تړون د ۵۳(۱) مادې د (الف) او (ب) فقرو سره یوځای ولوستل شي، نو د «عدالت ګټې» بله معنی ورکوي. نو ځکه، دا واقعیت چې ۵۳(۱)(ج) ماده د «عدالت ګټې» د نورو ممکنه محتویاتو په هکله چوپتیا لري، خلاف د ۵۳(۲)(ج)، په لازمي ډول د دغه اصطلاح محدود تفسیر نه کوي. پر عکس سره، اوس داسې ښکاري چې د جنایتونو شدت او د متضررینو ګټې یوازنې محورونه نه دي چې د «عدالت د ګټې» په هکله په نظر کې ونیول شي.[39] لدې امله، خورا ډیر نور عوامل هم شته چې کیدی شي له امله یې دا پریکړه توجیه کړی شي چې پلټنې پیل نه شي. په پای کې، د «عدالت ګټې» له ټولو هغه عواملو څخه ترکیب شوې چې کیدی شي د پلټنو او تحقیقاتو د نه پیل د پریکړې انډول درونډ کړي. زه د تړون د ۵۳ مادې اړوند فقرو په هکله د همدې تفسیر تأیید کوم. دلته د دغه کلماتو عادي معنا د تړون د موخو او هدفونو سره مطابقت لري لکه څرنګه چې د قضایي هیئت د رایو په موافقت سره پریکړه کې راغلي دي.

۳۶. د تړون د ۵۳(۱) مادې خلاف، کومه چې د پلټنو د اجرائاتو د پیل څخه مخکې مرحله تر پوښښ لاندې راولي، د تړون ۵۳(۲) ماده هغه وضعیت ته اشاره کوي چې د پلټنې د پیل څخه وروسته را برسیره کیږي. په واقعیت سره، د تړون ۵۳(۲) ماده هغه حالاتو ته نظر کوي چیرې چې د پلټنې په ترڅ کې، څارنوال/څارنواله پر دې پایله ورسیږي چې د هغه دلائلو پر اساس چې په (الف)، (ب) او (ج) فقرو کې یاد شوي دي، د عدلي تعقیب لپاره کافي دلائل نشته دي. په داسې حال کې چې (الف) فقره حقوقي یا د واقعیت اړوند دلائلو نه شتون ته اشاره کوي، د (ب) فقره د تړون د ۱۷ مادې د

---

[37] ج. دوګارد، «د قضایي واک او ،حقیقت کمیسیون، تر منځ تضادونه» په أ. کاسس او نورو کې (بیا نشر) د نړیوالې جنایي محکمې د روم تړون: تعلیقي لیکنه (۲۰۰۲) ۷۰ صفحه [په انګلیسي].
[38] هـ. هافنر او نور، «امریکایي نظر ته ځواب، څرنګه چې د روت ویجوود لخوا څرګند شو» په ۱۰ *د نړیوال قانون اروپایي ژورنال ۱۰۸* (۱۹۹۹) کې، ۱۱۲ صفحه [په انګلیسي].
[39] ت. دي سوزا دیاس، مخکې یاد شوی مأخذ، ۷۳۶ صفحه.

(نه)قبولتیا د ازمویني یادونه کوي. خو د (ج) فقره، د «عدالت ګټې» ته اشاره کوي، یا هم په یوه ممکن عدلي تعقیب کې د «عدالت د ګټې» د نه شتون په هکله یادونه کوي.

۳۷. د (ج) فقرې مطابق، کېدلی شي یو عدلي تعقیب هغه مهال د «عدالت په ګټه» نه وي، که ټول حالات پوره په پام کې ونیولی شي، په شمول د جنایتونو د شدت، د متضررینو ګټې، د شکمن جنایت کوونکي د وړتیا عمر، او د هغه یا هغې ونډه د اِدعا شوي جنایت په ترسره کولو کې. د «ټولو حالاتو» یادونه او د «شمول» کلمه داسې ښکاروي چې دهغه عواملو لست چې ورکړل شوی دی بشپړ شوی ندی. داسې ښکاري چې د جنایتونو شدت، د متضررینو ګټې، د مجرم عمر، یا هم بل کوم عامل د «عدالت د ګټې» استازیتوب وکړي.[40] څارنوال/څارنواله کولی شي ټول دغه عوامل په نظر کې ونیسي او د (ج) فقرې لاندې دا پرېکړه وکړي چې عدلي تعقیب به د عدالت په ګټه نه وي ځکه د عدلي تعقیب لپاره کافي دلائل نه شته.

۳۸. زما په نظر، لدې کبله چې د روم تړون ۵۳(۱)(ج) ماده څرګندوي چې په ځینو بیلګو کې، کېدلی شي عدلي تعقیب د عدالت په ګټه نه وي، نو ځکه روښانه ده چې د «عدالت د ګټې» اصطلاح باید د جنایي عدالت د محدود مفهوم څخه پراخوالی ولري. په پایله کې، کېدلی شي د «عدالت په ګټه»[41] وي چې عدلي تعقیب له سره پیل نه شي. نوځکه، نه شي کېدلی چې نوموړې اصطلاح یوازې په عدلي تعقیب، جنایي اجرائاتو او جزایي عدالت پورې منحصره پاته شي. هغه کېدی شي په دقیق ډول د جنایي عدالت د نه شتون په مفهوم وشمېرل شي.

۳۹. کېدلی شي چې د «عدالت د ګټې» پر بنسټ ډېر عوامل د پلټنو او تحقیقاتو د نه پیل د پرېکړې انډول دروند کړي. له دغو څخه موږ اجرایي پاملرنې په ګوته کولی شو لکه د تورن شوي کس لپاره د منصفانه محاکمې حق،[42] د سولې د خبرو اترو اړتیا یا یو بدیل عدلي میکانیزم،[43] د مالي او بشري سرچینو کمښت،[44] د دولتونو د همکاریو اړوند خندونه،[45] د تکمیلوالي او قبولتیا مسائل او د هیوادونو

[40] س. ګالاوین، «د نړوالې جنايي محکمې د روم تړون ۵۳ ماده: د عدالت په ګټه کې؟»، په ۱۴ *کینګز-لا ژورنال* ۱۷۹ (۲۰۰۳) کې، ۱۸۶ صفحه [په انګلیسي]. همداشان وګورئ ت. دي سوزا دیاس، مخکې یاد شوی مأخذ، ۷۳۸ صفحه [په انګلیسي].
[41] په پای کې، عدالت د هغه څه لاسته راوړلو ته اشاره کوي په کوم کې چې عدل، انصاف یا معقولتیا شته وي.
[42] د محاکمې دوهم هیئت، ICTY، څارنواله پرخلاف د نیکولیک، د محاکمې پرېکړه، ۱۸ دسمبر ۲۰۰۳، IT-94-2-5، ۳۱-۳۲ پاراګرافونه [په انګلیسي].
[43] د. رابنسون، «د عدالت د ګټو خوندیوالی: عفوې، حقیقت کمیسیونونه او نړواله جنايي محکمه» په ۱۴ د *نړیوال قانون اروپایي ژورنال* ۴۸۱ (۲۰۰۳) ۴۹۳-۴۹۸ صفحو [په انګلیسي].
[44] څارنوالي، دڅارنوالۍ پر وړاندې د ځینو مسائلو په هکله لیکنه (۲۰۰۳)، ۲ صفحه [په انګلیسي].
[45] پ. ویب، «د نړیوالې جنايي محکمې د څارنوال پرېکړه چې د عدالت د ګټو په موخه اجرائات ونه کړي»، په ۵۰ جنايي قانون درې میاشتنۍ ۳۰۵ کې، ۳۳۶-۳۳۸ صفحې.



د محکمې رسمي ژباړه

مسئولیت ترڅو عدلي تعقیب ترسره کړي،[46] امنیتي اندیښني او نور. او بیا دا معلومه ده چې د «عدالت ګټي» یوازې په محدود مفهوم سره تر حقوقي برخي منحصر نـه پاتـه کیږي. دا اصطلاح حقوقي او غیر حقوقي عواملو تـه اشاره کوي. کـه موږ د تړون ۵۳(۱)(ج) او (۲)(ج) مـادې او د هغه الفاظو محتوی ته وګورو کوم چې د روم کنفرانس پـه کـاري یادښتونو کې شتون لري، نو دا یوازې معقولـه پایله ده چې ترې اخیستل کیږي.[47] یوازنی ستونزه چې پاتـه کیږي هغه د «عدالت ګټي» د پلټنیا د حد روښانتیا ده. زما په نظر سره، ښایی دغه په مختلفو قضیو کې په جلا جلا توګه حل کړی شي.

۴۰. خامخا، کیدلی شي څوک پوښتنه وکړي چې ګواکې یوه عدلي محکمه کولی شي د پریکړې په اجرائاتو کې «غیر حقوقي» عوامل په پام کې ونیسي. په خاصه توګه، آیا د قضـایي هیئت قاضیانو دا اجازه لرله چې دغه عوامل د افغانستان د وضعیت په هکله په خپله پریکړه کې شامل کړي؟ زما په نظر، ځواب مثبت دی، لکه څرنګه چې د تړون د ۵۳(۱) او (۲) مادې تحلیل یې وړاندیز کوي، حتا دا چې قاضیان هم پـه خپلـه پریکړه کې، پـه نوموړي وضـعیت کې یـا د بل وضـعیت پـه هکلـه، ښـایي د څارنوال/څـارنوالي د کـار پـه هکلـه د پـام وړ درنـاوی څرګنـد کـړي، ځکـه کیـدی شـي چـې نوموړی/نوموړي د قضایي هیئت په پرتله په ښه موقف کې وي ترڅو دا ډول پریکړه تر هغه لـه مخې وکړي چې د پلټنې په هکله غوښتنلیک وړاندې کړي.

۴۱. دغـه نظریـه چـې « غیـر حقـوقي» عوامـل پـه پـام کـې ونیـول شـي د نړیـوالي جنـایي محکمـې د څارنولي لخوا «د قضیو د انتخاب او لمړیتوب په هکله د تګلارې په لیکنه» کې منل شوې ده چې په ۱۵ سپتمبر ۲۰۱۶ کـې نشـر شـوه. هغـې ویلـي دي چـې داسـې عوامـل بـه پـه نظـر کـې ونیسـي لکـه د نړیوالې همکارۍ او قضایي مرستې شتون ترڅو د هغې د کړنو حمایت وشي، د څـارنوالی ظرفیت تر څو وکولی شي لازمـي پلټنـې پـه موثره توګـه پـه مناسبه موده کې ترسره کړي، پـه سیمه کـې امنیتي حالاتو ته پام او هغه احتمـالات ترڅو د محکمـې پر وړانـدې د شـکمنو حضـور تضمین کـړي.[48] دغه پدې معنا کیږي چې «څارنوالي به همداشان د قضیې د لمړیتوبونو پـه هکلـه اړونـد عملیاتي شرائط پـه پام کې ولري، ترڅو دا تضمین کړي چې څارنوالي په هغه قضیو ترکیز وکړي کومې چې ښکاري پـه هغـو کـې پلټنـې موثریـت او بریـالیتوب ولـري چیرې چـې عدلي تعقیب ترسره شـي او د شـکمنو د

[46] د. جیکوب، « یو شمشون په نړیواله جنایي محکمه کې: په مقدماتي مرحله کې د څارنوال واک»، په ۶ *د نړیوالو محکمو او اختصاصي محکمو قانون او پلټنیا*: د وکیلانو ژورنال ۳۱۷، ۳۲۸ صفحه [په انګلیسي].
[47] د نړیوالې جنایي محکمې د تأسیس لپاره د ملګرو ملتونو د استازو دیپلوماتیک کنفرانس، رسمي یادښتونه، دوهم ټوک، *لنډیز یادښتونه او د ټولو کمیټو د جلساتو یادښتونه*، ۱۵جون-۱۷ جولای ۱۹۹۸، (VOL-11) A/CONF-183/13، ۶۳،۴۵ پاراګرافونه [په انګلیسي].
[48] څارنوالي، د قضیو د انتخاب او لمړیتوب په هکله د تګلارې لیکنه (۲۰۱۶)، ۱۸ صفحې، ۵۱ پاراګراف ۱۷ صفحه [په انګلیسي].

محکومتیا احتمال زیات وي.[49] نو په دغه ډول، د ترون له مخي کله چې د پلټني د پیل په هکله پریکړه کیږي، د *پلټني شونتیا* یو جلا عنصر نه دي.[50]

۴۲. نړیواله جنايي محکمه د وروستي حل لارې محکمه ده. د هغې مسئولیت دا نه دی چې په نړۍ کې د هر کرکجن جنایت په هکله فیصله وکړي. پدې هکله لمړی مسئولیت د هیوادونو دی. نوموړې محکمه یوازې هغه وخت کیدی شي مداخله وکړي کوم وخت چې کوم هیواد ونشي کولی یا په ربښتوني ډول نه غواړي عدلي تعقیب ترسره کړي. سربیره، نړیواله جنايي محکمه د تکمیلي اصل پر بنسټ د هیوادونو ښه چلند ته اړتیا لري، د هغوی د همکارۍ له لارې[51] او د هغه مالي بودجې له لارې چې له هغوی یې ترلاسه کوي. دغه وینا کول او منل یې د ربښتیا او صداقت خبره ده. کیدی شي څوک داسې دلیل راوړي چې د داسې عملي مسائلو په پام کې نیول لکه، د هیوادونو همکاري، په محل کې امنیتي حالات او نور...کیدی شي د قضايي ارزونو د مساویانه کړنلارې د اصل سره تناقض ولري، او د ځواکمنو یا مغروره هیوادونو په پلوی کوچنیو او تابعداره هیوادونو ته زیان ورسوي. دغه موقف د پوهاوي وړ دی، خو البته یو اړخیز ښکاري او د هیوادونو او د ترون لخوا یې حمایت نه شته، څرنګه یې چې وضاحت وشو.

۴۳. ارزښت لري چې په یاد ولرو داچې ترون یوازې یو موافقتلیک دی، او په دغه ډول، د موفقتلیکونو د نسبیت اصل پکښې پلې کیږي. یوازې پر غړو هیوادونو تأثیر لري. خو د وروستي پر خلاف، ناغړي هیوادونه کیدلی شي د نړیوالي جنايي محکمې سره رضاکارانه همکاري وکړي، غیر له هغه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا (امنیت شورا) لخوا کومه چې د ملګرو ملتونو د منشور د اوم څپرکي لخوا منل شویده، د راجع کولو پر بنسټ مسئولیت ورکړی شي. خو البته، حتی په هغه صورت کې چې قضیه له نوموړې لارې راجع کړی شي، غړي او ناغړي هیوادونه د خپلو همکاریو په اړه میلان نه لري،[52] او دغه لامل محکمې ته یوه عملي ستونزه ده چې موثریت[53] یې کموي او مشروعیت یې کمزوری کوي. دهیوادونو د مناسبې مرستې پرته، محکمه په تقریبي ډول بې وسې ده. نو ځکه، که کوم وخت لیدل کیږي چې محکمه موثرتیا نه لري نو هیوادونه یې لوی مسئولیت پر غاړه لري.

۴۴. له همدي امله، که چیرې څارنواله د امنیتي ستونزو له کبله شواهد نه شي تولولی یا یې نه شي ساتلی، نو محکمه به څرنګه وکولی شي چې په آرامتیا سره اجرائات وکړي؟ محکمه به په داسې حال کې څرنګه خپلې پلټنې پیل کړی شي کوم وخت چې په جګړه کې د لسیزو راهیسې د ښکیل هیواد مهمو لوبغاړو او ګډونوالو په وروستي پړاو کې د نړیوال منځګړیتوب په مرسته خبرو اترو ته مخه کړه ترڅو سوله او

[49] څارنوالي، د قضیو د انتخاب او لمړیتوب په هکله د تګلارې لیکنه (۲۰۱۶)،۵۱ پاراګراف [په انګلیسي]. *همدا شان وګورئ* څارنوالي، د لمړنیو ازموینو په هکله د تګلارې لیکنه (۲۰۱۳)، ۲۵ صفحې، په ۵۱ پاراګراف، ۱۷ صفحه کې [په انګلیسي].
[50] څارنوالي، د لمړنیو ازموینو په هکله د تګلارې لیکنه (۲۰۱۳) ۷۰ پاراګراف [په انګلیسي].
[51] س. دیویس، «په نړیواله جنايي محکمه کې د عدلي تعقیب د لزوملید په هکله سیاسي پاملرنې» په *۱۵ د نړیوال جنايي قانون بیاکتنه ۱۷۰* (۲۰۱۵) کې ۱۷۰ صفحه [په انګلیسي].
[52] *د بیلګې په توګه* «د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا د سودان او لیبیا د وضعیتونو راجع کیدنه» *وګورئ*.
[53] د بیلګې په توګه، نن ورځ، هیوادونه د ښاغلي عمر البشیر د نیولو د امر د تطبیق مخالفت کوي.

امنیت ترلاسه کړي؟ په ډیری وختونو کې دغه مهم لوبغاړي پخواني جګړئیز زورواکي دي. موږ باید هیر نه کړو چې محکمه د جګړئیزو جنایتونو، د بشر ضد جنایتونو او نورو هغه جنایتونو په هکله کار کوي چې ډیری وختونه د هغه افرادو له خوا ترسره شوي دي چې په دولتي موقف کې وي یا د دولت پر ستازیتوب سره. او لدې کبله د روم تړون د امنیت شورا ته اجازه ورکوي تر څو د نړیوالي سولې او امنیت پر موخه د نړیوالي جنايي محکمي قضیې تر یوه کاله ځند کړي د دائمي بیا کتنې سره یو ځای.[54] په واقعیت کې ځیني وختونه د نړیوال عدلي سیستم په پرتله، بدیل میکانیزمونه غوره بلل کیږي، لکه د حقیقت او پخولاینې کمیسیونونه، د عفوې ارګانونه، انتقالي عدلي سیستم او حتی ګاکاکا.[55] په نورو الفاظو کې، ځیني وختونه، کیدلی شي د نړیوال عدلي سیستم کاریدنه سوله ترینګلې کړي.[56]

۴۵. ځینو داسي نظر ورکړ چې که د امنیت شورا سیاسي عوامل ارزولی شي، نو نړیواله جنايي محکمه ته د قانون د محکمي په حیث نه ښایي چې د یوه وضعیت په هکله دا ډول «غیر حقوقي» عوامل په پام کې ونیسي.[57] زه موافق یم چې د څارنوالي او قاضیانو لاربښوونه د قانون پر بنسټ ده. دوی ته نه ښایي چې په سیاسي پاملرنو کې ښکیل شي. سیاسي لوبه هیوادونو او د هغوی مشرانو ته ساتل شوېده. خو البته، کوم وخت چې د پلټنې لپاره د اجازې غوښتنلیک وړاندې کیده، د محکمې څارنوالي د خپل عدلي تعقیب په لزوملید کې، لکه څرنګه چې د هغې د تګلارې په لیکنه کې یې وضاحت شوی دی، «غیر حقوقي» عوامل یا د پلټیا پاملرنې په نظر کې نیولي دي. تړون د څارنوالي دغه صلاحیت په رسمیت پیژني. او په نتیجه کې، مقدماتي هیئت چې د څارنوالي د کار د بیاکتنې مسئولیت لري، لمړی، د تړون د ۵۳(۱)(الف) – (ب) او (۲)(الف) – (ب) مادې په چوکاټ کې او دوهم، د تړون د ۵۳(۱)(ج) او (۲)(ج) مادې پر بنسټ د لوړې کچې لزوملید یا حتي آند پالنې سره،[58] باید دا صلاحیت ولري چې نوموړي «غیر حقوقي» عوامل و ارزوي.

۴۶. لدې کبله، د مقدماتي هیئت قضایي دنده ده ترڅو هغه پریکړه وه ارزوي کومه چې د څارنوالي لخوا شوېده، نه یوازې د قضایي واک او د وضعیت د قبولتیا په هکله،[59] بلکه همدا شان د «عدالت د ګټې» په هکله.[60] تر دغه حده، د مقدماتي څانګې د هیئت څخه دا غوښتنه ده تر څو یوه ټولیزه ازموینه وکړي.

---

[54] د تړون ۱۶ ماده. *همداشان وګورئ*، س. ګالاوین، «د نړوالې جنايي محکمې د روم تړون ۵۳ ماده: د عدالت په ګټه کې؟»، مخکې یاد شوی مأخذ، ۱۹۶ صفحه [په انګلیسي].

[55] ګاکاکا یو ډول دودیزه قضایي واک دی چې په روندا کې د ۱۹۹۴ کال د نسل وژنې وروسته د جنايي قضیو په پریکون کې ترې استفاده وشوه. أ. – م. دي برور او ای. رویبانا، «د ګاکاکا تاریخچه په روندا کې. د ژوندي پاتو نظریات» په ۱۳ د *نړیوال جنايي قانون بیاکتنه ۹۳۷* (۲۰۱۳) کې، ۹۳۸ صفحه [په انګلیسي].

[56] ت. ح. کلارک، «د نړیوالې جنايي محکمې څارنواله، عفوې، او دعدالت ګټې؛ د یوه نازک تعادل جوړونه»، په ۴ د واشنګټن پوهنتون د نړیواله زده کړې قانون بیاکتنه ۳۸۹ (۲۰۰۵)، په ۳۹۰ صفحه کې [په انګلیسي].

[57] په زړه پورې، همداشان هغه څه چې ښکاري د څارنوالي نظر دی، د بیلګې په ډول وګورئ: ک. أ. رودمان، «عدالت د قانون او سیاست ترمنځ د خبرو اترو په حیث»، په ۱۲ د نړیوال عدالت ژورنال ۴۳۷ (۲۰۱۴)، ۴۳۸ صفحه [په انګلیسي].

[58] پ. ویب، «د نړیوالې جنايي محکمې د څارنوال پریکړه چې د عدالت د ګټې په موخه اجرائات ونه کړي»، په ۵۰ جنايي قانون درې میاشتنۍ ۳۰۵ کې، ۳۲۰-۳۲۲ صفحو.

[59] د تړون ۵۳(۱)(الف)، (ب) او (۲) (ب) ماده.

[60] د تړون ۵۳(۱)(ج) او (۲)(ج) ماده.

لازمي ده ترڅو ټول اړوند حالات وڅیړل شي، په شمول د «حقوقي او نورو» عواملو. له همدې امله، کیدلی شي هیئت داسي پریکړه وکړي چې « اوسمهال» یوه پلټنه یا یو عدلي تعقیب مناسب نه دی.

۴۷. آیا سمه ده چې دغه عوامل «غیر حقوقي » وبولو؟ زما له نظره ځواب منفي دی، ځکه چې تړون د هغو وجود ته اشاره کوي. خو البته، هغه پاملرني کومي چې د هیوادونو د سولي او امنیت سره تړلي وي، کیدی شي سیاسي وبلل شي. په دغه قضیه کي، آیا د محکمي لپاره مناسبه ده ترڅو سیاسي مسائل په قضایي کار کي په نظر کي ونیسي؟ د قانون د یوې مستقلي او بیطرفه محکمي په حیث، نه ښایي چې سیاست نړیوالي جنایي محکمي ته لارښوونه وکړي. د محکمي قاضیان باید رښتونولي ولري. هغوی مستقل او بیطرفه دي. خو موږ پوهیږو، چې د هغه قضیو له کبله کومي چې محکمه یي په هکله کار کوي، د قانون او سیاست په څلورلارې کي دي او د هغي پریکړې پر نړیواله ټولنه او نړیوالو اړیکو تأثیر اچوي.[61] او ځکه هم کله ناکله هیوادونه همکاري نه کوي، او پلټني او عدلي تعقیب د شواهدو او شاهدانو د کمښت له کبله، او محکمي ته د شکمنو د نه حضور له کبله، بریالیتوب نه مومي. او خامخا، دا سبب ګرزي تر څو داسي نظر پیدا شي چې محکمه موثریت نه لري او لدې امله ناقانونه ده.

۴۸. سربیره، د منابعو له اړخه، محکمه محدودوالی لري، او د غړو هیوادونو د غونډې د تګلارې سره سم اوسمهال د بودجي وده صفر ده. په دغه حالاتو کي، کله چې ټول هغه شرائط په پام کي ونیول شي، آیا محکمه په رښتوني توګه کولی شي تر څو په داسي پلټنو کي ښکیل شي په کومو چې رښتونی امید نه شته چې په بریالیتوب سره [د شکمنو] محکومتیا را منځته کړي؟ کله چې نومړې پلټنه د دې سبب شي چې ځارنواله د مالي او بشري سرچینو د بیا تخصیص له امله هغه پلټنو یا قضیو ته زیان ورسوي چې په رښتوني ډول یي د بریالیتوب تمه کیږي، نو دا به د عامه پانګي ناسمه اداره وي.[62]

۴۹. پرته لدې چې ټول اړوند عوامل په نظر کي ونیول شي، د دغه ډول پلټنو د کولو په هکله پریکړه به غیر مسئولانه وي او یوازې دا پایله به ولري چې په اوږدمهال کي د محکمي اعتبار ته زیان ورسوي، سره لدې چې اوسمهال به نومړې اجازه د بشري حقونو فعالان او ځیني متضررین او قربانیان خوښ کړي. خو وروستي یاد شوي خلک به خواشیني شي یا به هم له محکمي سره تضاد پیداکړي هغه وخت چې پوه شي چې نومړې پلټني یا عدلي تعقیب هغسي پرمخ نشي تللی لکه څرنګه یي چې تمه کیدله. نو ځکه لازمه ده ترڅو پلټني شوني وي. خو البته، دلته شونتیا د یو جلا او پر خپل ذات ولاړ عنصر په حیث په پام کي نده نیول شوي چې د اجازې د نه ورکړي لامل شي. بلکه هغه د نورو اړینو عواملو سره یوځای په نظر کي نیول شوېده، لکه د محکمي محدود منابع او پوره اعتبار.

---

[61] س. دیویس، «په نړیواله جنایي محکمه کي د عدلي تعقیب د لزوملید په هکله سیاسي پاملرنې» مخکي یاد شوی مأخذ ۱۷۱ صفحه [په انګلیسي].
[62] د رایو په موافقت پریکړه، ICC-02/17-33، ۹۵ پاراګراف.

۵۰. سربېره، کله چې مقدماتي هیئت دا پرېکړه کوي چې، سره لدې چې ټول اړین شرائط پوره شویدي، په افغانستان کې اوسني حالات دا اجازه نه ورکوي چې بریالی پلټنه ترسره شي، نو متضررین او قربانیان نا امیده نه دي پرېښودل شوي. له هرڅه نه مخکې، قضایي هیئت د تل لپاره پلټنې نه رد کوي. نه یوازې دا چې کېدلی شي څارنواله د استیناف غوښتنه وکړي، بلکه همداشان، د تړون مطابق، « د مقدماتي هیئت لخوا د پلټنې د اجازې رد په دې معنا نه دی چې څارنواله بیا ونه کولی شي د همدغه وضعیت په هکله د نورو واقعیتونو او شواهدو ترلاسه کولو وروسته بیا د پلټنې د پیل اجازه وغواړي».[63] په پای کې، محکمه چې متضرر-محوره محکمه ده، د متضررینو او قربانیانو لپاره د مرستې او تاوان تدبیرونه نیسي.[64] ویلو ته اړتیا نشته چې قضایي هیئت د دوی په هکله ډېره اندېښنه لري. نو ځکه، کله چېرې اوس په افغانستان کې د زورزیاتي ښخه د متضررینو او قربانیانو د معاوضې په هکله فعالیتونه نه شته دي، د متضررینو لپاره د محکمې مالي صندق کولی شي بیا هم ځینې مرستې د دوی د راتلونکې لپاره کېږدي، د هغه وخت لپاره چې د پلټنې لپاره حقوقي شرائط پوره شي او رسمي اجازه ورکړل شي، کله چې، د بېلګې په ډول، امنیتي حالاتو اجازه ورکړه. نو ځکه، قضایي هیئت د متضررینو ګټو ته نه رغیدونکی خطر نه جوړوي، کوم چې د رایو په موافقت پرېکړه کې په پوره ډول په رسمیت پېژندل شوی دي.

**څلورم: پایله**

۵۱. د مقدماتي هیئت قاضیانو د رایو په موافقت سره پرېکړه وکړه چې سره له دې چې د قضایي واک او قبولتیا په هکله ټول اړوند شرائط پوره شویدي، څارنوالي ته، دا اوسمهال، دافغانستان په ضعیت کې د پلټنې اجازه ورنکړي. معلومداره ده چې زه د خپلو همکارانو سره همنظری یم. خو البته په اصولي ډول، د اجازې د حدودو په هکله، هغه وخت چې وکیدی شي مقدماتي هیئت څارنوالي ته د پلټنې اجازه ورکړي، زه له دوی سره اختلاف لرم. زما په متواضع نظر، د یوه نومول شوي وضعیت په هکله چې د څارنوال/څارنوالي په غوښتنلیک کې پوره واضح کړل شوی وي، که چېرې قضایي اجازه ورکړل شوه، څارنوال/څارنواله کولی شي چې که لازم وي پلټنې پراخه کړي.

۵۲. د پرېکړې په اجرائاتو کې، قاضیانو د تړون د ۵۳(۱)(ج) او (۲)(ج) مادې مطابق، د رایو په موافقت پرېکړه وکړه، په ځانګړې توګه د «عدالت د ګټې» پر بنسټ. کله یې چې دغه کار ترسر کاوه، هغوی د

---

63 د تړون ۱۵(۵) ماده.

64 د غړو هیوادونو غونډه، د غړو هیوادونو غونډې ته د پروژو او د متضررینو لپاره د مالي صندق د رئیسانو شورا د کړنو په هکله راپور له ۱ جولای ۲۰۱۶ څخه تر ۳۰ جون ۲۰۱۷ پورې، ۲۱ اګست ۲۰۱۷، ICC-ASP/16/14؛ همداشان وګورئ د متضررینو لپاره مالي پانګه، د متضررینو لپاره د مالي صندق بیان، د رئیسانو شورا: د روم تړون لاندې، د معاوضې عدالت د متضررینو او قربانیانو لپاره مطلق ارزښت، ۱۴ سپتمبر ۲۰۱۸؛ همداشان وګورئ ل. موفِت، «په نړیواله جنایي محکمه کې د متضررینو لپاره عدالت»، په «*د نړیوالو جنایتونو د معلوماتي ذخیرې لنډیز ۶ (۲۰۱۴)*» کې، ۱ صفحه [په انګلیسي].

وضعیت اړوند ټول اړین شرائط په نظر کې ونیول، حقوقي او «غیر حقوقي» یا د پلټیا اړوند. دغه ډول چلند غیرقانوني ندي، ځکه په دقیقه توګه په پورتنیو فقرو کې یې په هکله له مخکې څرګندونه شوېده.

۵۳. نوموړي قضایي هیئت، چې د متضررینو او قربانیانو د وضعیت په هکله حساس دی، همداشان دغه پریکړه د هغوی پر ګټه کړېده، د محکمې د اعتبار د ساتلو له لارې. د قاضیانو پریکړه یوه حقوقي پریکړه ده، سره له دې چې هغوی د ساحې ځیني امنیتي عوامل او د هیوادونو همکاري یا نه همکاري په نظر کې نیولې ده. باید ټینګار وشي چې د محکمې قاضیان سیاستوال نه دي او هغوی ته یوازې د قانون له لارې لارښوونه کیږي، سره لدې چې محکمه په یوه خورا زیات سیاسي چاپیریال کې کار کوي.[65] په لنډیز سره، دغه پریکړه چې د پلټنې د پیل اجازه نه ورکوي، یوه حقوقي پریکړه ده او د نړیوال جنایي عدالت په ګټه ده.

په انګلیسي او فرانسوي ژبو تکمیل شوه، انګلیسي متن اصل دي.

/لاسلیک/

**قاضي آنطوان کیسیا- مبیه مندوا،**

**د هیئت رئیس**

نیټه: ۳۱ مي ۲۰۱۹

هیګ، هالند

[65] د بیلګې په ډول وګورئ م. دی هون «د نړیوالې جنایي محکمې راتلونکې. په نیوکه کې، حقوقیوالی او د محکمې د قانونیت پیاوړتیا»، په۱۷ *د نړیوال جنایي قانون بیاکتنه ۵۹۱ (۲۰۱۷)* کې، ۵۹۱-۵۹۷ صفحې [په انګلیسي].